DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۷۶

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

لسم کال - دویمه دوره، ۷۷۶مه گڼه، پر له پسې ۱۸۴۳ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غوايي ۲۳ مه - د پنجشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۲۹ مه ۲۰۱۰ د مې ۱۳ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د ځمکې غاصبان وسلوال دولتي کسان دي

کابل ښاروال په ډاګه کړه، چې د ځمکې غاصبان وسلوال دولتي کسان دي او دوی يې د مقابلې توان نه لري.

انجنير محمديونس نواندېش، چې د ولسي جرګې پرونۍ (د غوايي په ۲۲مه) غونډې ته راغوښتل شوی و، وويل چې دوی نه شي کولای، دولتي ځمکه د غاصبانو له منګلو وژغوري.

هغه زياته کړه: ((ځمکه د هغو دولتي کسانو له خوا په زوره نيول کېږي، چې وسلې په لاس کې لري.))

۳مخ

صلح با طالبان؛ واقعیت و یا رویای دست نیافتنی!؟

در حالی که شورای امنیت ملی، پیشبینی می کند که بیشتر افراد طالبان با برنامهٔ صلح خواهند پیوست، طالبان این موضوع را به شدت رد نموده و آنرا تبلیغات و پروپاگند غرب و دولت افغانستان می داند.

یکی از اعضای این شورا که نخواست نامش تذکر یابد، دیروز در یک نشست معلوماتی گفت که زمان صلح نزدیک شده است.

وی که به نماینده گی شورای یادشده توضیحات می داد گفت که اختلاف ذات البینی مشکلات اکمالاتی، دستگیری سران، کمبود منابع در رده های پایین، از جمله دلایلی است که طالبان را به صلح وادار می سازد.

شورا همچنان می گوید که ملا محمدعمر رهبر طالبان نیز، تا حدی خواستار مذاکره است.

به اساس معلومات این منبع، اختلافات ذات البینی در طالبان از قبل ادامه داشت و این اختلاف، بر سر جانشینی ملابرادر میان ملا ذاکر قیوم و اختر محمد منصور، شدت یافت. ملابردار یک مقام بلندپایهٔ طالبان، حدود ۳ ماه قبل توسط شبکه های استخباراتی پاکستان و ایالات متحدهٔ امریکا در شهر کراچی، بازداشت گردید.

طبق معلومات شورای امنیت ملی، هردو قوماندان تلاش دارند، تا جانشین ملابرادر شوند.

منبع می گوید که قوماندانان طالبان تلاش دارند، تا این اختلاف را ملامحمدعمر حل کند، اما ملامحمدعمر از این کار خودداری می کند.

شورا به این نظر است که ملا قیوم ذاکر، شاکی است که ملا منصور، وی را از مخارج و درآمد پولی آگاه نمی سازد و این اختلافات سبب شده که افراد آنان در بادغیس، هلمند، کندز و پکتیکا به

ص۳

له طالبانو سره خبرې او د بنځو حقونه

د بشري حقونو د څارنې نړيوال سازمان له افغان او امريکا له ولسمشرانو غوښتي چې تعهد وکړي څو له طالبانو سره د روغې جوړې په موضوع کې د بنځو حقونه تر پښو لاندې نه کړي.

دغه سازمان له بارک اوباما او حامد کرزي نه غوښتنه کړې ده چې له واک څخه د ناوړه ګټې پورته کونکو څخه دې حساب وغواړي.

د بشري حقونو سازمان په ځانګړي ډول پر افغان ولسمشر غږ کړی، چې فاسد او له واک څخه ناوړه ګټه پورته کوونکي چارواکي لري کړي او هغه کسان چې مجرم پېژندل کېږي، هغوي ته سزا ورکړي.

دغه سازمان دغه راز له ولسمشر اوباما غوښتي، چې په افغانستان کې د پوځي عملياتو پر مهال د ملکي مرګ ژوبلې د مخنيوي په خاطر ګامونه واخلي او د دغه شان پېښو د لازموتحقيقاتو لپاره زمينه برابره کړي.

د بشري حقونو د سازمان څېړونکي ريچل ريید د افغان او امريکا د مشرانو تر منځ کتنه مهمه بللې ده او ويلي دي، چې اوباما او کرزی باید د بنځو د حقونو د خوندي ساتلو، د جنګ سالارانو د لرې کولو او د اداري فساد پر ضد د مبارزې په اړه خپلې ژمنې عملي کړي.

نوموړي ويلي په دې برخو کې خبرې او وعدې زياتې شوي، خو په کمو مواردو کې عملي ګامونه اخيستل شوي دي. د بشر د حقونو د اداري د راپور له مخې له طالبانو او حزب اسلامي سره چې دواړه د بنځو پر وړاندې د تبعيض او ناسم چلند اوړده سابقه لري، د سولې پلان د پرمختګ په حال کې دی. د بشر د حقونو سازمان وايي، له هغو وسلوالو سره چې سوله کېږي، بايد له هغوی نه دا تعهد واخيستل شي چې د کار، زده کړې او سياسي ازادۍ په شمول د بنځو اساسي حقونه ومني.

پر دې سربېره بايد بنځې ددولت له وسلوالو مخالفانو سره د روغې جوړې په پروسه کې مخکښ رول ولوبوي، څو له دغې پروسې ځارنه وکړي.

د دغه سازمان په وينا بنځې چې په سياسي او مدني ټولنو کې فعاليت کوي، د وېرې په حالت کې دي، ځکه چې نه خو دولت په سمه توګه د هغوی امنيت ساتلی شي او نه هم د هغوی د وژنې په اړه چې اکثره د سياسي علتونو له امله وي تحقيقات کېږي.

د ميچل ريید په وينا افغان حکومتونو په وار وار د بنځو حقونه قرباني کړي دي او پر چارواکو په دې لړ کې اعتماد کول ستونزمن کار دی.

د ازادي راډيو د راپور له مخې، د بشري حقونو د سازمان په وينا امريکايي او ناټو ځواکونو د ملکي مرګ ژوبلې د مخنيوي لپاره دوه کاله وړاندې يو څه تدبيرونه ونيول، خو تر اوسه پورې په افغانستان ددوی په عملياتو کې د عامو خلکو مرګ ژوبله دوام لري.

افغانستان درصدر فهرست دریافت‌کننده گان کمک‌های امریکا در سال ۲۰۱۱

بودجهٔ سال مالی ۲۰۱۱ امریکا، مبلغی معادل ۳/۹۲ میلیارد دالر برای کمک به افغانستان اختصاص داده است که با تخصیص این بودجه، افغانستان در صدر فهرست کشورهای دریافت‌کنندهٔ کمک‌های خارجی واشنگتن در سال مالی یاد شده، قرار گرفت.

به گزارش سایت اطلاع رسانی پروژهٔ دموکراسی در شرق میانه، کمک در نظر گرفته شده در بودجهٔ سال مالی۲۰۱۱ امریکا برای افغانستان در مقایسه با بودجهٔ ۲/۶۲میلیارد دالری سال مالی،۲۰۱۰ شاهد افزایشی ۵۰ درصدی است.

البته این نکته را نباید از نظر دور داشت که دولت اوباما در لایحهٔ مکمل بودجهٔ سال مالی، ۲۰۱۰خواستار ۱/۷۸ میلیارد دالر بیشتر از بودجهٔ اختصاص داده شده برای کمک به افغانستان شد که به این ترتیب، مجموع کمک‌های امریکا به افغانستان، در سال مالی جاری به ۴/۴ میلیارد دالر رسید.

براساس این گزارش

ص۳

د کندهار محبس اداري مدير ووژل شو

ناپېژاندو وسلوالو پرون سهار په کندهار ښار کې د مرکزي زندان يو افسر په ډزو ووژه. د کندهار د مرکزي زندان آمر جنرال مايار د غوايي پر ۲۲مه وويل چې دغه پېښه د ښار د اومې ناحيې اړونده ډډنډ په ځلاري کې رامنځته شوه.

هغه زياته کړه چې د زندان اداري مدير سمونمل نبي ګل په بايسکل له خپل کور څخه د دفتر پر لور روان و، چې د ډنډ له ځلور لاري څخه يو تن، چې هغه هم په بايسکل روان و، پر ده ډزې وکړې او ووېژه. د جنرال مايار په وينا، برید کوونکي له خپل يوه بل ملګري سره په موټرسايکل وتښتېدل او خپل بايسکل يې د پېښې په ځای کې پرېښی دی.

د کندهار ولايت امنيه قوماندان ۳ مخ

قوماندانان ناتو و دیپلومات‌های غربی:

برای تسلط بر قندهار، هفت ماه وقت نیاز داریم

ما دیگر ظرفیتی بیش از ظرفیتی که هم‌اکنون در افغانستان داریم، نخواهیم داشت

قوماندانان ناتو و دیپلومات‌های غربی به یک روزنامهٔ بریتانیایی اعلام کردند که اگر در زمینهٔ افزایش تعداد نظامیان و اتحاد سیاسی سرمایه‌گذاری شود، نیروهای ناتو تا ۷ ماه آینده طالبان را از "قندهار" بیرون می‌کنند.

جنرال "فردریک هاجز" قوماندان عملیات‌های نظامی امریکا در جنوب کشور، به روزنامهٔ تایمز اعلام کرد: مأموریت ما این است که تا پایان سال ۲۰۱۰، یک جریان برگشت‌ناپذیر را به نمایش بگذاریم. این ساعتی است که من از آن استفاده می‌کنم. ما دیگر ظرفیتی بیش از ظرفیتی که هم‌اکنون تا تابستان ۲۰۱۰ داریم، نخواهیم داشت. زمانی بهتر از این موقع نخواهیم داشت.

بنا بر این گزارش، قوماندانان ناتو اعلام کردند که به منظور تحقق این هدف، نیروهای مشترک نیروهای

ص۳

ملت و حاکمیت ملی

۲

دلوی او ببنونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

خوشبینی های عوام فریبانه و یا بدبینی های واقعبینانه؟

در قسمت اوضاع امنیتی افغانستان، دیدگاه های متفاوتی وجود دارد؛ بعضی ها روند امنیتی افغانستان را چنان با آب وتاب و با خاطر آرام توصیف می نمایند که گویی در این سرزمین هیچ گونه دغدغه یی وجود نداشته و آب از آب تکان نمی خورد، ولی بعضی ها چنان با شور و هیجان از عدم موجودیت امنیت و بی سروسامانی صحبت می نمایند که گویی این کشور در آستانهٔ یک بحران امنیتی قرار داشته و از در و دیوار آن، وحشت می بارد.

اینکه این خوشبینی ها و بدبینی ها از کجا نشأت می نماید، زادهٔ کدام نوع طرز تفکر است و در ابراز این نوع اظهارات، چه اهدافی نهفته است، ایجاب بحث مفصل و جداگانه یی را می نماید.

اما واقعیت امر این است، اگر از هر فرد این کشور پرسیده شود که وضع امنیتی افغانستان را نسبت به هشت سال گذشته چگونه می یابی؟ به صراحت اذعان خواهد نمود که وضع امنیتی بدتر شده است.

نه تنها افراد عادی این کشور، بلکه مقام های امنیتی و حکومتی نیز، بارها وضعیت امنیتی کشور را نگران کننده توصیف نموده اند.

بنابران، مقایسه میان دیدگاه بدبینانهٔ حکومت افغانستان و نظریات خوشبینانهٔ نظامیان امریکایی، قدری دشوار است.

ولی قسمی که در این مدت هشت سال به مشاهده رسیده، قضاوت های راهبردها و تکتیک های نظامی و سیاسی پالیسی سازان قصر سفید مبتنی بر یافته های غیرواقعی و روایت های بی بنیاد مفسران و نظامیان آن کشور بنا یافته است و روی همین ملحوظ است که تا حال همه راهبردها و برنامه های شان ناکارا و بی نتیجه از آب در آمده است؛ زیرا که دور از واقعیت های عینی جامعهٔ افغانستان است.

با این وصف، از مقام های نظامی قوای ناتو و جامعهٔ بین المللی باید پرسید که روی چه دلایلی پیرامون اوضاع امنیتی افغانستان اظهار خوشبینی نموده اند؟

آیا واقعاً اوضاع امنیتی افغانستان آن قدر خوب است که نظامیان خارجی هیچ گونه تشویشی ندارند و یا اینکه با سر پوش نهادن در دیگ جوشان، خشم هموطنان خویش، نفرت و انزجار شان را که در حال افزایش است، کاهش می دهند.

در اظهارات خوشبینانهٔ غیرواقعی نظامیان امریکایی از جمله جنرال مک کریستال فرماندهٔ عمومی ناتو در افغانستان که پیشرفت های نظامی را منظم و آهسته خواند، جنرال دیویدپتریوس فرماندهٔ قوماندانی مرکزی امریکا که وضعیت جنگ افغانستان را مثبت ارزیابی کرد و سرانجام گفتار رابرت گیبس سخنگوی قصر سفید که از اوضاع امنیتی افغانستان اظهار خوشبینی نموده و گفته است که رییس جمهور امریکا از پیشرفت ها در افغانستان راضی می باشد، چه اسراری نهفته است؟

حال باید دید که با این همه خوشبینی های نظامیان خارجی، اوضاع امنیتی در داخل کشور از چه قرار است و در طول این هفته نظر به گزارش های دولتی و ابلاغیه های رسمی مقام های ناتو چه حوادثی به وقوع پیوسته است: " در یک حملهٔ مخالفان دولت در ولسوالی سنگین ولایت هلمند که قوای داخلی و خارجی در حال گزمه بودند، سه تن از عساکر اردوی ملی کشته و یک تن از قوای آیساف به هلاکت رسیده است. نظر به اظهارات قوای ناتو، یک عسکر دیگر آیساف در شرق افغانستان کشته شده که مقام وزارت دفاع افغانستان نیز، این موضوع را تایید نموده است، چهار عسکر فرانسوی به اثر انفجار ماینی در شمال شرق کابل مجروح شدند که حالت یک نفر شان وخیم گزارش شده است؛ یک فروند هلیکوپتر قوای ناتو توسط مخالفان دولت در ولسوالی سنگین ولایت هلمند سقوط داده شد، ده تن به شمول شش متعلم و چهار معلم به اثر انفجار یک بم در مکتبی در ولایت خوست شدیداً زخمی شدند، و چند راکت به شهر غزنی اصابت نموده است که تلفات ناشی از آن تاکنون معلوم نیست."

با وقوع این همه حوادث، نظامیان امریکایی چگونه ادعا می نمایند که اوضاع امنیتی افغانستان بهبود یافته و قابل تایید شان است؟

این گونه اظهارات غیرواقعبینانه نمایانگر این حقیقت است که نظامیان امریکایی می خواهند، تا از یک طرف دولتمردان قصر سفید را اغفال نموده و کارکردهای خویش را موفق جلوه دهند و از جانب دیگر، اذهان مردم خویش را فریب داده و خوشی های کاذبی برای شان به ارمغان دهند.

آیا بهتر نخواهد بود که به جای خوشبینی های دروغین، واقعیت های عینی جامعهٔ افغانستان را درک نموده و مطابق به شرایط عینی جامعه و خواست های واقعی مردم، راهبردها و برنامه هایی را طرح نمود؟

ملت و حاکمیت ملی

نگارنده: دکتر اندس م. نبی هیکل

قسمت چهارم

ملت و هویت ملی از دیدگاه برخی از روشنفکران افغانی

نخستین بخش بحث بر ملت و هویت ملی زیر عنوان پیشگفتار رسالت روشنفکری را به گونهٔ کوتاه مطرح بحث قرارداد. در پیشگفتار بخصوص ابراز گردید که رسالت تاریخی روشنفکری عبارت است، ازکار در راستای التیام زخم ها.

التیام زخم ها ممکن است، مرهم گذاری و بنداژ و یا عمل جراحی را نیاز داشته باشد.آنچه را که به صورت حتم نیازندارد، پاشیدن نمک بر این زخم هاست.

۲،۱اندیشه های روشنفکران در رابطه با ملت و هویت ملی:

در آغاز این بحث، از دیدگاه روشنفکران افغان یاد آوری گردید و اکنون مثال هایی از شیوهٔ تفکر آنان را تذکر می دهیم.

دیدگاه های روشنفکران افغان را بر بنیاد نگاشته ها و گفتگوهای شان به سه دسته می توان، ردیف بندی نمود:

۱) دسته یی که ملتی را در بحران می بیند و کار در راستای وحدت ملی را ضروری می شمارند.

۲) دسته یی که معتقد به پروسهٔ به اصطلاح ملت سازی است.

عنوان های آینده، دیدگاه های این دو دسته را بازگو می نماید. در این نوشته، بر استدلال دستهٔ دوم، توجه بیشتر مبذول می گردد.

۲،۱،۱ ملتی در بحران:

نویسنده گان شامل این دسته ابراز داشته اند که:

- ملیت ها، قبایل و اقوام ساکن در کشور، همواره از وحدت ملی، استقلال و تمامیت ارضی و ارزش های مشترک حمایت می کنند.

(دو نمونهٔ بزرگ: دو جنگ با انگریز و مبارزهٔ متحدانه برضد نیروهای اتحاد شوروی) متحدانه دفاع کرده اند.

- ملیت ها، قبایل و اقوام ساکن در کشور، از ستم ستمگران به صورت یک جایی آسیب دیده اند.

- ملیت ها، قبایل و اقوام ساکن این مرزوبوم تنها توسط دست اندرکاران سیاست و نیروهای بیگانه، به تفرقه و رویارویی واداشته شده اند.

- روابط میان ملیت ها، قبایل و اقوام ساکن در افغانستان، در پهلوی سایر ارزش های مشترک ملی با پیون های ارگانیک ومی کانیک (اصطلاح دورکهایم) و خویشاوندی ها نیز، نیرو مند گردیده است. در تاریخ مبارزات سیاسی، نیروهای مخالف و موافق نیز، با اندکی تأمل، نمونه هایی از این پیوندها و کارآیی آنها را می توان یافت.

- همین اکنون مردم نه به این و آن بودن فرد، بلکه به شایستگی، افغانیت و وفاداری به منافع ملی اهمیت می دهند.

نبودعدالت و انصاف، مایهٔ همه بدبختی هایی است که این ملت فریب خورده برای بیرونرفت از آن، هنوز هم باید برزمد.

از نگارنده یی در این مورد می خوانیم:

"ما به وحدت ملی برخورد عوامانه نکنیم، کما اینکه هنوز ملت نشده ایم و هرگز هم وحدت ملی پیش از تشکیل و تکمیل عناصر ملت به وجود نمی آید. ملت شدن ماحصل بلوغ فکری و رشد فرهنگی، با شالوده های زیر ساخت استوار در حوزهٔ اقتصاد و مناسبات اجتماعی است. فرهنگ خرد مدار، برابری باور، فرا تباری، اندیشه گستر، شایسته پسند، نخبه گرا، تجدد پذیر و مناسب با ویژه گی های ملی و نسبت یافتن به ارزش های جهانی وانسانی! می باید در مردم ازار کشیده و نابسامان افغانستان نهادینه گردد.

مهمترین نکته در این نبشته این است که برای رسیدن به سکوی ملی شدن و ملت ساختن، نخست بایستی با تبار طلبی و قبیله گرایی، تقابل گرایی، خوی خشونت، وابستگی و بیگانه پروری، نادانی و سازش ناپذیری، سرسختی و تعصب و تقابل با ذهن تاریخی مردم را پایان دهیم.

بررسی ها و نشانه گذاری اکثریت نویسنده گان در نسل های قلمزن قرن بیست کشور ما، سزاوار خواندن نیستند." (بیژنپور" آ.آبادی" وحدت ملی یک توهم و هزار گمان.سایت آریایی، سال ۱۳۸۶) **ادامه دارد**

په افغانستان کې د شرم او ویاړ ورځې

میاګل اروال

هره ټولنه د خپل تاریخ په اوږدو کې ډېرې داسې ورځې لري، چې د غړیو لپاره یې د شرم او ویاړ وړ دي. د شرم وړ ځکه وي چې یو شمېر وطن پلورونکو غړیو یې د پردیو د نوکرۍ له امله د غلامۍ کړۍ پر غاړه، خپل ولس او خاوره یې د پردیو په امر او قوماندې د هغوی په واک کې ورکړې وي، دغه د پردیو نوکران د پردیو په چوپړ او غلامۍ کې هسې منډې وهي، چې ګواکې هندو ستړی او خدای ناراضه.

د ویاړ ورځې خو ځکه د درنښت او قدر وړ وي، چې یا مذهبي ارزښتونه لري او یا هم ملي اړخونه. دا ورځې په نړۍ کې هره ټولنه د خپل تاریخ په اوږدو کې د ډېرې داسې ورځې لري، چې د غړیو لپاره یې د شرم او ویاړ وړ دي. د شرم وړ ځکه وي چې یو شمېر وطن پلورونکو غړیو یې د پردیو د نوکرۍ له املې د غلامۍ کړۍ پر غاړه، خپل ولس او خاوره یې د پردیو په امر او قوماندې د هغوی په واک کې ورکړې وي، دغه د پردیو نوکران د پردیو په چوپړ او غلامۍ کې هسې منډې وهي، چې ګواکې هندو ستړی او خدای ناراضه.

د ویاړ ورځې خو ځکه د درنښت او قدر وړ وي، چې یا مذهبي ارزښتونه لري او یا هم ملي اړخونه. دا ورځې په نړۍ

د کندهار محبس اداري مدير...

مل پاسوال سردار محمد ځاځي د پښې د تاييد ترڅنګ وويل چې پوليسو په سيمه کې پلټنې پيل کړې دي. طالب ويانډ قاري يوسف احمدي د محبس د اداري مدير د وژل کېدو مسوولیت پر غاړه واخيست. د يادونې وړ ده، چې له تېرو دوو مياشتو راهيسې په کندهار کې شاوخوا ۲۰ قومي مشران او دولتي چارواکي وژل شوي دي.

د پڑواک د راپور له مخې، په دې ولايت کې ناامنۍ په داسې حال کې زور موندلی، چې افغان او نړيوالو ځواکونو د ميوند په نامه نوي عملیات پيل کړي دي.

د برېتانيا نوی لومړی وزير ...

نـــژدې ســـتر شـــوی دی. پـــه آکـــسفورډ پوهنتـــون کـــې يـــې فلـــسفه، سياســـت او اقتـــصاد لوســـتي دي. لـــومړنی سياســـي کـــار يـــې پـــر ۱۹۸۸ کـــال د محافظـــه کـــار ګونـــډ د پلټنې په ځانګه کې پيل کړ.

دوو صـــدراعظمانو - مارګريـــټ تـــاچر او جـــان ميجـــر تـــه يـــې ويـــناوې ليکلـــې او پـــه پارلمـــان کـــې يـــې لـــه مخـــالف ګونـــډ ســـره د مخـــامخ کېـــدو لپـــاره لـــه هغـــوی ســـره پـــه چمتووالي کې مرسته کوله.

لـــومړی ځـــل پـــه ۲۰۰۱ کـــال کـــې د آکـــسفورډ لـــه ســـيمې څخـــه ولـــسي جرګـــې تـــه وټاکـــل شـــو. د نـــوي لـــومړي وزيـــر لپـــاره پـــه هغـــه څـــه کـــې بريـــاوې غـــواړم، چـــې پـــر اوږو يې دروند بار پروت دی.

پـــر ۲۰۰۵ کـــال د محافظـــه کـــار ګونډمـــشرتابه تـــه پـــه دې هيلـــه وګومـــارل شـــو، چـــې کـــم عمـــر بـــه يـــې محافظـــه کـــار ګونـــډ تـــه چـــې دغـــه مهـــال د مـــشرتابه لـــه خـــوراســـخت بحـــران ســـره مخـــامخ و، د هېواد د ځوانو وګړو د راکښلو سبب شي.

د اوباما مبارکي

ســـپينې مـــانۍ ويلـــي ولسمـــشر اوبامـــا دېوېـــډ کـــامران تـــه د برېتانيـــا د لـــومړي وزيـــر د دنـــدې مبـــارکي ورکـــړې ده. دا پـــه تېـــرو کـــابو دوو ســـوو کلونـــو کـــې لـــومړی ځـــل دی، چـــې تـــر ټولـــو ځـــوان شخـــصيت د برېتانيـــا لـــومړی وزيـــر کېږي. ګـــورډن بـــراون چـــې لـــه خپلـــې ښـــځې ســـره يـــې پـــه ډاوننـــګ ســـټريټ ۱۰ کـــې خبـــرې کـــولې، وويـــل ده د خپلـــې لـــومړۍ وزيـــرۍ پرمهـــال تـــشريفاتي کارونـــه کـــړي او خپـــل ځانګاســـتي تـــه هـــم د بريـــا او ښـــېګڼې هيلـــه لـــري. بـــراون زياتـــه کـــړه چـــې پارلمـــان کـــې بـــه هـــم لـــه خپلـــې ځـــوکې نـــه اســـتعفا وکـــړي او لـــه سياســـت نـــه بـــه پـــه بشپړه توګه لاس واخلي.

په افغانستان کې د شرم او ...

کولې چې ګواکې دوی خو ډېر حق په جانبـه وو او له دوی سره ډېر تېری شوی دی.

د روس نو کرو برېځو داسې ځرګندونې کولې، چې دوی خـو بـې ازاره تـوتکی دي، هـېڅ راز جـرم او خيانت يې نه دي کړی. دا چې خاوره او ولس يې د کمونيزم په پلي کولو کې ځومره ځورولی او کړولی دی، ځومره افغانان يې د روسي ګټو قرباني کړل، ځومره يې بې کوره او مهاجر کړي دا خو دوی نـه دي کړي، بلکې دا پخپله د افغان ولس په اصطلاح تېروتنه وه، چې ولې يې دروسانو پرضد اسلامي جهاد پيل او بري ته ورساوه.

دوی ځکه دغه راز خبرې اترې کولې او يا يې کوي، چې له دوی سره هـېڅ حساب او کتاب ونـه شـو، شمـشېرزن او رهـزن معلـوم نـه شـو، وطـن پلـور او وطن ګټونکی سره بېل نه شول، له ولس سره د ښمن او دوسـت تـه پـه يـوه سـترګه وکتـل شـول. د روس نوکرانـو چـې ولېـدل شـهر ناپرسـان دی، هرځوک کولای شي پخپلو جنايتونو توري پردې وغورځوي، حقايق پټ کړي، داسې اټکل کـوي چـې دا ولس هم رونـد دی او هم کوڼ.

د کمـونيزم تـالي ځټـو چـې کـومې ځرګنـدونې کولې، داسې ترېنه ځرګندېدله چې دوی اوس هم لـه ګـوابښ او ګېرنـه نـه دي پـاتې، بلکې اوس هـم کولای شي چـې د دې ولس سپکاوی وکړي، هر افغان ته له دې املـه چې کـه پـه دوی انتقـاد وکـړي سترګې راباسي او د وهلو ګوابښ ورتـه کـوي. د دې خبرې ښه مثال ځه موده وړاندې د ازادی راډيو په يوه خپرونه کې د شهنواز تنۍ هغـه ګـوابښ و، چې ښاغلي بشردوست ته يې وويل: بې خايه به خبرې به نه کوې که نه وهم دې. دا خبره ټولو او رېدونکو او رېدلې او پـه هماغـه خپرونـه کـې پـرې ژونـدي انتقادونه وشول.

اورېدونکو داسې ځرګندونې وکړې، چې د روس نـوکران خـو اوس هـم لـه ګـوابښ وګيـره نـه دي لوېدلي، دوی اوس هم افغانان تهديد وي، وهي يې او که زور يې ورسېږي د پخوا په ځېر به يې وژنې او ژوندي به يې په ګور کړي، دوی له خپل تېر ژوند نـه هـېڅ عبـرت نـه دی اخيستی، دوی نـه يـوازې خپـل ځانونـه خـوار او تبـاه کـړل، افغانسـتان يـې د لوېـديځ پـه لمـن کـې وغورځـاوه او د کمـونيزم واکمني (شوروي اتحاد) د نړۍ له نقشې ځخه ورک کړ، بيا هـم دوی ځانونـه داسې بولي، چې هېڅ يې نه دي کړي، ګواکې دوی د سولې سپينې کوترې دي.

په يـوه ټولنـه کـې چـې مکافات او مجازات نـه وي، خپلسري او انارشي وي، هېڅوک ملامت سلامت ته ګوته ونه شي نيولای، په داسې بې توله ټولنه کـې بـه هـرو مـرو مجـرم تـر صـادق زړور وي. کـه د جهاد له بـرې سـره سـم لـږ تـر لـږه مجـرم، خـاين او غدار په ګوتـه شـوی وای او دا ورتـه ځرګنـده شـوې وای چې نور کرار کېنئ، توبه و کاږئ او دوی افغان ملـت تـه ملامـت ورپېژنـدل شـوی وای، اوس بـه افغان ولس او راتلو نکو نسلونو تـه بـه دا سـوال نـه پيداکېده چې په هېواد کـې يـې ملامـت او سـلامت ځوک دی؟

په هند کې د افغانانو د درملنې ...

ډاکټر وايي چې دا د يو لک يا دوو لکو روپيو کار دی! خو کميشن کار ورتـه وايـي چـې دا سړی زمـا ماما دی، تـه لـږ مرسته ورسـره وکـړه. ډاکټر وايي هوکې ستا لپاره بـه لـس - شـل زره ورتـه پرېږدم، کمېـشن کـار نـاروغ تـه وايـي چـې دا ډاکتـر ډېـر مهربانـه سړی دی، زمـا او سـتا لپـاره يـې شـل زره پرېښودې؛ خو چې ځوک په اصله خبره پوه وي، هغه پوهيږي چې ياره دا خو د ځلوېښت - پنځوس زره خبره ده، بيا دا يو لک يا دوه لکه د څه لپاره ؟!

دا اضـافي پيـسې د ډاکترانـو او کميـشن کـارانو تـر منځ وېشل کېږي او دا تجارت همداسې په خونـد روان دی او د بېوزلو افغانـانو په ميليونونـو ډالـره د هنـدي ډاکترانـو او تجـارتي روغتونونـو جېبونـو تـه لوېږي.

اوس راځو د خبرې پای تـه او هغـه دا چـې ډېر ښـه وشول، چې د ولسي جرګې غړو د روغتيا پخواني وزير ډاکټر فاطمي تـه رايـه ورنـه کـړه. په کـار دي چـې ولـسي جرګـه خپـل دينـي، ملـي، انـساني او وجداني مسوولیت په پام کې ونيسي او نور هغـه وزيران هـم خپلـو کورونـو تـه واسـتوي چـې کـار نـه کوي او هسې د وزارت په نامـه پيسې ټولوي! بلې خبره دا ده چـې د افغانـستان دولـت بايـد په خپـل روغتيايې سيستم د خلکو د اعتماد د ژونـدي کولـو لپاره، يو نمونه روغتون جوړ کړي. داسې روغتـون چې ښکلې ودانۍ ولري، ښه وسايل په کې موجـود وي، زړه سواندي ډاکتران او فعاله عمله ولري، ښه کنټرول پـه کـې وي، لـه هـر ډاکټر، نـرس او نـاروغ څخـه جلاجـلا پوښـتنې وشـي، هغـه چـې ښـه کـار کوي وستايل شـي او هغـه چـې خپـل وخـت ضـايع کوي، له کاره وشړي او څـار نوالي تـه يـې ولېږي. د ناروغ د زړه حال واخلي او په دې توګه د افغانستان په روغتيا يي سيستم تللی اعتماد بېرته را وګرځـي او ځينې خلک پر دې ډاډه کړي چې په هنـد کـې د زرګونو ډالرو د لګښت حاجت نه شته او همدلته په کور کې درملنه کېدای شي. که داسې وشـي، نـو د ډېرو هغه بېوزلو افغانانو ستونزو ته بـه د پـای ټکـی کېښودل شي، چې په پنځوس درجه تودوخه کې، د علاج لپـاره هنـد تـه روان دي او پـه لکونـو روپـې مصرفوي!

برای تسلط بر قندهار، هفت ماه ...

ناتو و افغان در نظـر دارنـد کـه بيـشترين شمار نيروهای ارتشی و مأموران پـوليس در کـشور را مورد استفاده قرار دهند. هزاران تن از نظاميان از اردوی ملی افغانستان و شبه‌نظاميان ايـن کـشور در نظر دارند، به همراه نيروی ايتلافی مـستقر در قندهار و همچنين نيروهای کمکی از ميان ۱۳ هزار نظامی امريکايی که در چنـد مـاه اخيـر در مرحلـۀ دوم طـرح افـزايش نيروهـای امريکـايی، بـه افغانـستان فرسـتاده شـدند، در ايـن عمليات شرکت کنند.

بنا بر اين گزارش، استراتيژی نظامی ناتو، شـامل ترکيب نظاميـان امريکـايی و نيروهـای ويـژه بـا پوليس افغانستان است، تا بـه ايـن وسـيله، ايـن نيروها بتوانند، ۳۲ پوسـتۀ تلاشـی را در اطـراف شهر قنـدهار ايجـاد کننـد. قطعـات اردوی ملـی و نيروهـای ايـتلاف سـپس تـلاش خـود را بـرای پاکسازی طالبان از مناطق "ارغنداب"، "زيری" و "پنجوايی" واقع در قندهار، به کار می‌گيرند.

بنا بر اين گـزارش، قوماندانان نـاتو پـيش‌بينـی کردند کـه ۷۵ درصـد از افـراد طالبـان در ولايـت قندهار به سر می‌برنـد و اکثـر ايـن افـراد در سـه منطقۀ يادشده، متمرکز شده‌اند.

افغانستان درصدر فهرست دريافت...

از ۳/۹۲ ميليـارد دالـر کمـک تخـصيص يافتـه در بودجۀ سال مالی ۲۰۱۱ امريکا به افغانستان، ۱/۳۹ ميليارد دالر بـرای هزينـه در طـرح بـه اصـطلاح حاکميت عادلانه و دموکراتيک در نظر گرفته شـده است که در مقايسه با ۷۱۷ ميليـون دالـری کـه در بودجۀ سال مالی سال ۲۰۱۰ برای اين امـر منظـور شده، تقريبا دو برابر است.

همانند بودجۀ سال مالی، ۲۰۱۰ اين مبلغ بيشترين ميزانـی اسـت کـه بـرای حمايـت از بـه اصـطلاح دموکراسـی و حاکميـت از سـوی امريکـا بـه يـک کشور اختـصاص مـی‌يابـد کـه در نـوع خـود بـا حاشيه‌های فراوانی همراه بود.

با تأمل در اين ارقام می‌توان دريافت کـه رقـم ۴۰۱ ميليـون دالـری کـه در بودجـۀ سـال مـالی ۲۰۱۱ امريکـا بـرای بـه اصـطلاح کمـک و حمايـت از دموکراسـی و حاکميـت در منطقـۀ شـرق نزديـک درخواست شده، کمتر از يک سوم بودجه‌يی اسـت کـه دولـت امريکـا بـرای افغانـستان درخواست نموده است.

رقم ۱/۰۱ميليارد دالـر تخصيـصی امريکـا بـرای اجـرای طـرح حاکميـت و زمامـداری مطلـوب در افغانستان، در قياس با رقـم ۳۹۲/۶ ميليـون دالـر اختـصاص يافتـه در بودجـۀ سـال مـالی ۲۰۱۰ افزايش قابل توجهی داشته است.

کمک مالی امريکا به طرح انکشاف جامعۀ مدنی در افغانستان که در بودجۀ سال مالی ۲۰۱۰ افزايش چشمگيری داشت، در بودجۀ سال مالی ۲۰۱۱ با ۲۹ در صد کاهش به ۸۰ ميليون دالر رسيد.

صلح با طالبان؛ واقعيت و يا رويای دست ...

که می خواهند بين طالبان تفرقه ايجاد کنند.

وی افزود: "تا زمانی که قوت های خـارجی در افغانـستان مـستقر باشـند، طالبان به هيچ روند صلح و آشتی نمی پيوندند."

گر چه طالبان تا حال به پروسۀ صلح ظاهراً تمايـل نـشان نـداده انـد، امـا شماری از کارشناسان امور به ايـن عقيـده انـد کـه ملابـرادر شـخص دوم گروه طالبان، در پاکستان به خاطری گرفتار شد که علاقمند پروسۀ صـلح بود و گفته می شود که ملاقات چند ماه قبل نمايندۀ سابق سرمنـشی ملـل متحد برای افغانستان با نماينده گان طالبان در دبـی نيـز، بـا موافقـۀ مـلا برادر، صورت گرفته بود.

د ځمکې غاصبان وسلوال دولتي ...

د وکيلانو نيوکه هم همدا وه، چې ښاروالي د دولتي ځمکو د غصب مخنيوی نه شي کولی.

کابل ښاروال وويل، چې د کابل د امنيه قوماندانۍ په همکارۍ تر وروستي بريده هڅه کوي، چې د ځمکې د غاصبانو مخه ونيسي، خو تر اوسه نه دي توانېدلي.

د کورنيو چارو وزارت ويانډ زمري بشري پڑواک ته ويلي، چې تر کومه ځايه چې د دوی مسوولیت دی، له کابل ښاروالي سره مرسته کوي، خو دا چې سمه پايله نه لري، په اړه يې بايد کابل ښاروالي او د ښاري پراختيا وزارت ځواب ورکړي.

کابل ښاروال، همدارنګه د کابل ښار د فرعي سړکونو او کوڅو قير کول، د هغو کورونو له خوا له خندې سره مخ وګڼل، چې په خپل سر جوړ شوي دي. هغه زياته کړه: ((د کابل٪۷۰ کورونه بې پلانه دي.))

ښاروال همدارنګه وويل، چې کابل ښار د پاکې هوا لپاره لازمه ده، چې ۶زره هکتاره شنه ځمکه وي، خو زياته يې کړه چې اوس په دغه ښار کې په ټوليزه توګه يوازې ۷۳۰ هکتاره ځمکه شنه ده.

د سيدآباد اوسېدونکي خپلې شخړې پر طالبانو هواروي

دوردګو د سيدآباد ولسوالۍ په اداره کې د محکمې نشتوالي، په يوشمېر سيمو کې خلک اړ کړي، چې خپلې شخړې پر طالبانو حل کړي.

د يادې شوې ولسوالۍ محکمه، تېر کال د امنيتي ستونزو له امله د ولايت مرکز (ميدان ښار) ته راوړل شوې ده.

د سيدآباد سرپرست ولسوال حاجي نعمت‌الله، دغوايي پر ۲۲ مه وويل، چې د محکمې چارواکو تېر کال ولسوالۍ ته ځېرمه له يوه ځانمرګي بريده وروسته پرېکړه وکړه، چې ميدان ښار ته لاړشي.

دغه کار د سيدآباد د اړوندو کليو خلک له ستونزو سره مخ کړي او وايي، چې دوی په اسانه نه شي کولای ميدان ښار ته ورشي.

د يادې شوې ولسوالۍ د سالارو د سيمې اوسېدونکي علي ګل په وينا، د لارې د لرې والي او امنيتي ستونزو له امله، دوی نه شي کولای، چې هره ورځ ميدان ښار ته د خپلو دوسيو لپاره لاړشي.

هغه زياته کړه، چې د ولسوالۍ د شنيز درې او سالارو سيمې څخه نيولې د غزني ولايت تر پولو پورې، ټول خلک خپلې شخړې پر طالبانو هواروي.

د نومورې د معلوماتو له مخې، خلک د همدې سيمو په سلطانخېلو، هفت اسياب، باغک، اوڅړي، شش قلعه او يوشمېر نورو کوچنيو کليو کې طالبانو ته مراجعه کوي.

علي ګل وويل: ((تېر کال په بلندکاش کلي کې يوه ښځه په مرموز ډول ووژل شوه، طالبانو يې په تور يوشکمن تن نيولی او تراوسه ترې تحقيقات روان دي.))

همدارازدهمدې ولسوالۍ يو بل اوسېدونکی غلام سخي وايي، چې د ولسوالۍ ډېری خلک غريب دي او ان ميدان ښار ته د تللو لګښت نه شي ورکولای.

هغه وويل: ((محکمه يوه دوسيه په کلونو کلونو نه حل کوي، بله دا چې پيسې به هم ورکوي، نو خلک نه غواړي دولت ته ورشي، بلکې هغوی طالبانو ته ورځي، چې په لنډه موده کې يې ستونزه اواروي، ځکه خو طالبانو ته د خلکو توجه اووښتې ده.))

د سيدآباد سرپرست ولسوال حاجي نعمت‌الله د ولسوالۍ په اداره کې د محکمې نشتوالي، د خلکو لپاره لويه ستونزه بولي او وايي، چې ځوځخله يې د ولسوالۍ مرکز ته د محکمې د وړلو غوښتنه کړې ده.

هغه وايي: ((دا زمور او خلکو لپاره لوی مشکل دی، ما په وار وار له والي صاحب ځخه غوښتي چې محکمه بېرته راشي، خو تراوسه څه نه دي شوي.))

بلخوا د سترې محکمې د نشراتو رييس عبدالوکيل عمري پڑواک ته وويل، چې د سيدآباد په ځېر د يوشمېر نورو ولايتونو ناامنه ولسوالیو محکمې د ولايتونو مرکزونو ته راوړل شوي او پرېکړه شوې، چې دامنيت په ښه کېدو، بېرته خپلو سيمو ته لاړې شي.

په هند کې د افغانانو د درملنې ستونزه

احسان الله آرینزی

کله چې ځو میاشتې مخکې د افغانستان ولسي جرګې د حکومت ځینو وزیرانو ته د اعتماد رایه ور نه کړه، ځینې خلک پرې خپه شول. د مخابراتو وزیر ښاغلي امیرزي سنګین او د روغتیا وزیر ښاغلي فاطمي په دې ډله کې وو. زه د مخابراتو د وزیر په هکله څه نه لیکم؛ ځکه چې ټول ولس هغه ته د اعتماد رایې په نه ورکولو خپه دی او دی یو فعال او مبتکر وزیر بولي؛ خو زه د خپلو خلکو په هغه خپګان کې ځان شریک نه بولم، چې د روغتیا وزیر یې د اعتماد رایې وړ باله. دا احساس په ما کې هغه وخت د پر پیاوړی شو، چې د روان عیسوي کال د فبروري او مارچ په میاشتو کې د یوه ناروغ د درملنې لپاره ډیلي ته لاړم او هر څه مې په سترګو ولیدل.

د هند د سفر په پایله کې زه د روغتیا پخوانی وزیر ښاغلی محمد امین فاطمي او تقریباً د افغانستان ټول دولت په دې ګرم بولم، چې وې نه کولای شول په کابل کې داسې یو روغتون معرفي کړي چې ډاکټران، پرسونل، وسایل او مقررات یې د خلکو د اعتماد وړ شي. داسې یو روغتون چې ناروغان په ستر امید ورشي او له هغه ځایه روغ خپلو کورونو ته ستانه شي او د دغه روغتون په هکله خوږې خاطرې له خپلو نورو ملګرو، دوستانو او خپلوانو سره شریکې کړې!

زه چې هند ته د دې رو افغانانو تګ وینم، دوی د افغانستان د روغتیا په سیستم، روغتونونو او ډاکټرانو اعتماد نه لري، باور یې نه راځي او که نه د هر کسان د داسې ساده ناروغتیا وو د درملنې لپاره، د هند د سفر ستونزې او لګښت پر غاړه اخلي، چې په کابل کې یې د درملنې یا عملیاتو امکانات شته. ځینې خلک خو په اوسني افغانستان کې د هر شتمن شوي او هسې د فیشن لپاره هم هغه هند ته روان وي، د (چک اپ) لپاره ځي، د ښکلا عملیات کوي، خپل جسماني قوت زیاتوي او داسې نور؛ خو ډ افغانان هم په زرګونو دي چې رنځ لري، ناروغه دي، بله لاره نه وینې، پیسې په پور اخلي، ځمکه او کور خرڅوي او هند ته د علاج لپاره ځي.

په هند کې د اریانا افغان هوایي شرکت امر وایي چې له افغانستانه په اونۍ کې یوویشت طیارې ډیلي ته راځي. دا طیارې په میاشت کې ۱۲۰۰۰ افغانان ډیلي ته وړي، چې نوي په سلو کې یې ناروغه او یا هغه کسان دي چې له ناروغانو سره مل وي. له دې څو زره کسانو څخه ډېر لږ په انګلیسي یا هندي ژبو پوهیږي، د ډیلي یا د هند د نورو ښارونو په جغرافیه خبر وي او یا هلته کوم دوست ملګری ولري چې مرسته ورسره وکړي، نور نو زیاتره داسې خلک دي چې له هرات، نیمروز، کندهار، کابل، پکتیا، سرپل، پنجشیر او یا نورو سیمو څخه، فقط د خدای په هیله او د ډیلي د ډاکترانو په هیله روان وي او ځان تقدیر ته سپاري.

په ډیلي کې څو روغتونونه ډېر نومونې دي: اپولو، مکس (ګورګاون) جیون، مکس (ډیلی) سیګل، ایشین مډیسن سنټر (فرید آباد) او ځینې افغانان د دې روغتونونو له نومونو سره پوره بلد دي. اپولو خو ډېر پخوانی دی. البته ډېر افغانان نورو روغتونونو ته هم ورځي او خپل علاج کوي. د دې روغتونونو ډاکټران لومړی ناروغه افغانان (عمومی چک اپ) ته لږې چې یو - دوې روځې وخت او دوه درې سوه ډالره لګښت غواړي، د دې (چک اپ) په پای کې په هر ناروغ افغان کې یو څه ستونزې راوځي: وینه دې غوړه ده، (شوګر) لري، په (تریخي) کې دې کاني دي، معده دې زخم لري، په بډوډي کې دې ډبرې جوړې شوي، غاښ دې نوي کول غواړي، مرۍ دې خرابه ده، سترګې دې کمزورې دي او...

په دې بهیر کې له ډېرو ناروغانو سره د هغه افغاني کمیشن کارونو غواړي لنګېږي، چې له پخوا څخه په ډیلي کې اوسي او د همدې ناروغانو پر پیسو ژوند کوي. د ډاکټر نجیب الله د وخت د پوځي افسرانو او د خاد د مامورینو د ډېر زامن په ډیلي کې ځوانان شوي او دا ناروغان د خپلې روزې (دام) بولي. هغه شمېر ځوان افغانان، چې د ډیلي اپولو، مکس او سیګل روغتونونه هندوان او سکان چې د مجاهدینو د بدو روځو له لاسه هند ته تښتېدلي، اوس هلته پر همدې (تجارت) لګیا دي، چې نابلده ببوزلي افغانان روغتونو ته بوځي، هلته دوی ته ترجماني وکړي، د درملنې یا عملیاتو په (نرخ) یې چانې ووهي او له ناروغ څخه د روځني معاش په څنګ کې له (ډاکټر) یا (روغتون) څخه (کمیشن) تر لاسه کړي!

ما په ډیلي کې یو ځوان غزنیوال سک ته چې د پښتو په دوه سوه او د دري په پنځه سوه کلماتو پوهېده وویل ته چې په خپلو افغاني ژبو سم نه پوهېږې، څنګه ترجماني کولای شې؟ د مثال په توګه د یوې ښځې ناروغتیا څنګه ډاکټر ته ویلای شې او د ډاکټر طبي مشورې او مسلکي خبرې دې ښځې یاد هغه محرم نارینه ته څنګه ژباړلای شې؟ ده وویل چې زه د ناروغ ستونزې په ساده الفاظو ډاکټر ته ویلای شم؛ خو مسلکي نه یم او مسلکي طبي خبرې یا مشورې نه شم ژباړلی!

په دې سفر کې زه پر دې پوه شوم چې ځینې افغانان ناروغان، په تېره بیا ښځې خپلې ستونزې ډاکټر ته نه شي رسولای؛ ځکه د ژبې محدودیت او د شرایطو محدودیت ځینې ښځینه ناروغانې دې ته نه پرېږدي چې خپلې ټولې مسئلې له ډاکټر سره یادې کړي.

د ډیلي اپولو، مکس او سیګل روغتونونه ټول په افغانانو ډک دي. په (سیګل هسپتال) کې د روانې - عصبي او عقلي رنځونو علاج کېږي. په دې روغتون کې تاسو خال خال هندیان لیدلای شئ، نور ټول ببوزلي افغانان دي چې جګړې او راز راز خپګانونو ناروغه کړي او دلته د علاج لپاره راغلي دي.

خلک د ستر ګو عملیات په هند کې کوي، خلک خپل غاښونه په هند کې جوړوي، هغه مینډې چې اولاد نه لري، هند ته ځغلي. خلک د عملیاتو لپاره هند ته ځي، پر عصبي - رواني ناروغیو اخته ځوانان او مشران هند ته منډې وهي، لکه چې جادو پرې شوی وي. کېدای شي چې هغه هندي ډاکټران او روغتونونه چې په کابل کې فعال دي، خلک دې ته هڅوي یا اړباسي چې د درملنې لپاره هند ته لاړ شي!

په هرصورت په میاشت کې د علاج لپاره تلونکي لس زره کسان د الوتکې ټکټونه اخلي، په هند کې په مېلمستونونو یا د خلکو په کورونو کې اوسي، ټکسي ګان نیسي، روغتونونو ته ځي، پر درملنو او عملیاتو باندې پیسې لګوي، ډوډۍ خوري، سوغاتونه اخلي، که دا ټول حساب کړو؛ نو په زغرده ویلای شو چې افغانان هره میاشت څو لکه یا څو میلیونه ډالره هند ته په تګ او هلته پر درملنه لګوي او دا لږې همداسې روانه ده!

هغه کمیشن کاران چې مخکې مو ورته اشاره وکړه، د دې لګښتونو په ډېرولو کې ښکاره لاس لري. دوی ډاکټران پر دې پوهوي چې له دې ناروغه څومره پیسې اخستلای شي. له (مکس هسپیټال) څخه پرته نور ټول چانې وهي

۳مخ

د برېتانیا نوی لومړی وزیر او پر وړاندې یې پرتې ننګونې

د برېتانیا د محافظه کاره ګوند مشر ډېوېډ کامران وروسته له هغه د برېتانیا د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو، چې پخواني لومړي وزیر ګورډن براون له دې دندې استعفا وکړه. د ښاغلي براون تر استعفا وروسته د کارګر ګوند ۱۳ کلن حکومت پای ته ورسېد. د نوي حکومت په اړه ډېر جزیات لا نه دي په ډاګه شوي، خو د مالیې او بهر نیو چارو د وزیرانو ټاکل تایید شوي دي. ډېوېډ کامران په داونینګ سټریټ ۱۰ کې د لومړي وزیر د دفتر په مخ کې له ملکې الیزابیت سره تر لیدو وروسته له دیموکراتانو او لیبرال ګوندونو سره د یوه قوي حکومت د جوړولو ژمنه وکړه.

بلخوا د محافظه کار ګوند سرچینې وایي، د لیبرال ګوند مشر نېک لیک به د برېتانیا د نوي ایتلافي حکومت د لومړي وزیر مرستیال وي. په کابینه کې د هغه ګوند ته څلور نورې څوکۍ هم ښلې شوې دي. دا هغه پرمختګ دی چې سیاسي څېړونکو یې یوه اونۍ مخکې هم اټکل نه کاوه.

ښاغلي کامران د دې پخلی وکړ، ګوند یې چې په تاکنو کې یې اکثریت نه دی ترلاسه کړی، غواړي چې د لیبرال دیموکرات له ګوند سره خپل ایتلافي حکومت جوړ کړي: "په راتلونکي کې به زمونږ هېواد یو ځوړند یا معلق پارلمان ولري، چې یو ګوند به هم په کې اکثریت نه لري او مونږ سختې ستونزې لرو، چې په دې ډله کې د بودیجې کمښت او تولنیزې ستونزې هم شاملې دي، مونږ داسې یو سیاسي سیستم لرو چې باید اصلاح شي، د همدې لاملونو پر بنسټ غواړم، چې د محافظه کارانو او لیبرال دیموکراتانو ترمنځ یو مناسب او بشپړ ایتلاف جوړ کړم."



په تېرو ۴۵ کلونو کې په لومړي ځل د ډېوېډ کامران په مشرۍ برېتانیا کې یو ایتلافي حکومت رامنځ ته کېږي.

کلېکاړل لنډ ژوند لیک

ډېوېډ کامران د ۱۹۶۶ کال د اکتوبر پر نهمه په لندن کې زېږېدلی، خو نیوبری ته

۳مخ

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com